# افغانستان د ستراتژیکو لوبو میدان

## لیکوال: دوکتور عثمان تره کی

د امریکا د ملي امنیت مشاور "برنژسکي" ویلي وه چي مرکزي آسیا (یوریشیا) په نړۍ باندي د واکمنۍ ستیژ جوړوي. هر زبر ځواک چي وتوانیږي د ستیژ قومانده تر لاسه کړي په لویدیځه اروپا، سهیل ختیځه آسیا، منځني ختیځ او د افریقا پرسترو طبعي سرچینو باندي ولکه ټنګولای سي. د چین، هند، جاپان او جنوبي کوریا چټکي ودي له یوې خوا او د روسیې د هژمونستي سیاست راژوندي کېدل له بلي خوا دا پیغام له ځان سره لري چي په سیمه کي مخکنۍ ستراتیژیکه معادله د بدلون په درشل کي قرار لري.

پېژندل سوي زبر ځواکونه او نوي سیمه ایز قوتونه په دې لټه کي دي، چي په تدارکاتي لارو کي د نظامي هډو د جوړېدو په واسطه، ترانسپورټي کرښي تر خپل کنټرول لاندي راولي.

په یو ویشتمه پېړۍ کي په ستراتژیکه لوبه کي د نوو لوبغاړو راڅرګندېدل سیالیو ته کثیرالاړخه بڼه ورکړې ده. د سویز او شانګای تر منځ پراخه سیمه د ژیو پولتیکي لوبي په میدان بدله سوې ده.

د شوروي اتحاد د امپراتورۍ د ړنګېدو څخه وروسته رامنځته سوي بدلونونه د دې لامل وګرځېدل، چي اروپا د امریکا د بهرني سیاست د ثقل د مرکز په توګه د کسپین حوزې، مرکزي اسیا، افغانستان او پاکستان په ګټه خپل باور له لاسه ورکړي. له همدې کبله ۷۰ زره امریکایي پوځ له اروپا او بالقانات څخه عراق، کویټ، مرکزي آسیا او افغانستان ته منتقل سو.

امریکا په ۲۰۰۶م. کال کې د هند سره د پام وړ یو ستراتژیک تړون لاسلیک کړ؛ په سیمه کې د قواوو انډول د پاکستان په تاوان بدلون وموند. پاکستان په دې موخه چې افغانستان د امریکا او هند د نفوذ څخه وباسي، په جګړه کې د افغاني مقاومت د افزاري کېدو پلان تر لاس لاندې ونیوئ.

امریکا، جاپان او جنوبي کوریا:

د شوروي اتحاد د امپراتورۍ د ړنګېدو (۱۹۸۹ – ۱۹۹۱) څخه وروسته نړۍ یو قطبي بڼه غوره کړه. امریکا د یو قطبي نړۍ په سر کې د نړۍ د نظامي لګښت د ټولو څخه نیمایي برخه پر غاړه لري. نظامي بې ساري وړتیا امریکا ته د قهریه قوت د استعمال ظرفیت ور په برخه کړئ دئ. نظامي پیاوړتیا د دې لامل سوې ده، چې امریکا د نړیوالو سازمانونو غړیتوب ته چې حقوقي نظم بر قراروي لېوالتیا ونه ښیي او په نورو هېوادونو باندي بې پروا مداخله وکړي.

انرژي یوازنۍ ستراتژیکي طبعي زېرمه ده، چې امریکا نورو هېوادونو ته اړباسي. امریکا د ۳۰۰ میلیونه وګړو (د نړۍ په سلو کي ۴,۶) په درلودلو سره د نړۍ یو په څلور انرژي، چې د نړۍ په کچه په سلو کي ۲۵ جوړوي، مصرفوي. د انرژۍ د تجارت کنټرول امریکا ته دا وړتیا ورپه برخه کوي، چې خپل اقتصادي پرمختیا، چې د نړیوال اقتصاد انډول محور جوړوي، تضمین کړي.

امریکا د سړې جګړې څخه وروسته په ټولو هغو سمندري تدارکاتي لارو، چې دسهیلي آسیا خوا ته غزول سوې ده خپل کنټرول ټینګ کړئ دئ. "پانامه"، چې اتلانتیک د بحرالکاهل سره نښلوي، د امریکا تر ولکې لاندي ده.

"ليلي پاداس"، د "سانتياګو" د نظامي تاسيساتو او هاوايي، ګيوم، سنګاپور، جاپان او جنوبي کوريا د نظامي هډو تر منځ اړيکي برقراروي. د امريکا په نوموړي امنيتي سيستم کي جاپان او تايوان د پام وړ رول لوبوي.

امريکا په ۲۰۰۰م. کال پر تايوان د ۴,۴ مليارډو يورو په بيه "اپاش" توغندی او هليکوپټري و پلورلې. چين، چي تايوان د خپل ۲۲ دوه ويشتم ايالت په توګه پېژني، په دفاعي دريځ کي قرار ونيوه.

د امريکا امنيتي سيستم Seventh Fleetth په جاپان کي موقعيت لري. د امريکا نظامي تحريکاتو چين ودېته وهڅاوه، چي خپل جنګي ماشين او مډرني وسلې، چي تعرضي وړتيا ولري سره سمبال کړي. له بلي خوا جنوبي کوريا د يو سيمه ايز ځواک په حيث سر راپورته کړ. د دواړو هېوادونو مليتارستي تحرکاتو جاپان اړ کړ، چي د مقابلې په موخه خپله نظامي ستراتژي د واقعيتونو سره سمبال کړي. د توکيو "دجاپان سمندري ځواک اتو دفاع" د افغانستان په جګړه کي له ناټو سره همکاري کوي. جنوبي کوريا د امريکا بل ملګری، چي د خپل ملي ناخالص توليد پر بنسټ باندي د نړۍ په کچه لوړ نظامي لګښت لري، په ډېر شدت د خپل نظامي پوتانسيل د مډرن کېدو پروګرام تر لاس لاندي لري.

د فلپاين بحيره، چي د چين بحيره د جنوب ختيز او ختيزي آسيا سره نښلوي، د امريکا د پاره د پام وړ ستراتژيک موقعيت لري. خو هلته چين د يو پېژندل سوي ځواک په حيث په مختلفو ځمکنيو او سمندري منازعاتو کي يو اړخ جوړوي. چين د

اختلافونو د حل په مقصد په ځو اړخیزه پروسه باندي لنګر اچوي.

د چین سهیلي بحیره، چي کافي اندازه طبعي زېرمي لري، د نړۍ په کچه د مختلفو هېوادونو د ستراتژیکو ګټو د ټکر سیمه پېژندل سوې ده.

هندوستان:

هندوستان د چین د ستراتژیک ایسار په وړاندي د غبرګون په توګه د تاجکستان سره، چي د چین او پاکستان سره ګډه پله لري، ځان نژدې کړئ دئ.

هند دافغانستان او مرکزي آسیا خواته د خپل نفوذ د پراختیا په موخه په ۲۰۰۶م. کال په تاجکستان کي یوه نظامي هډه جوړه کړه.

هندوستان په کاروار، اندمان، مدغاسکر، ویتنام خلیج (کامران)، عربي بحیره او د بنګال په خلیج کي نظامي تاسیسات لري.

هندوستان د لسو کلنو راهیسي افغاني لوري ته ۲ ملیارډه ډالر مرسته ورکړې ده او د افغانستان په کانونو او انرژي کي ئې د پانګه اچوني لېوالتیا ښوولې ده.

هندوستان په نظر کي لري چي د چابهار په بندر کي، چي هند، افغانستان، ایران او مرکزي آسیا سره نښلوي، ۱۰۰ میلیونه ډالر ولګوي.

روسیه:

روسیه د سیالو هېوادونو د ستراتژیکو محورونو د رامنځته کېدو په غبرګون خپل نظامي حضور ته د سوریې، لیبیا او یمن په ساحلي اوبو کي پیاوړتیا ورکړې ده. روسیه د سمندري تاسیساتو د عصري کېدو پراخ پروګرام پلی او د جنګي نوي نسل الوتکو په تولید ئې لاس پوري کړئ دئ.

روسیه په ۲۰۰۷م. کال کې د مې پر۸ د اروپا خواته د ازبکستان د ګاز د ترانزیټ په مقصد د ازبکستان سره یو تړون لاسلیک کړ. د امریکا هغه پلان چې د ازبکستان او کسپین بحیرې غاز دې د افغانستان له لارې صادرسي تر سوال لاندې راوستل سو. روسیه په ۲۰۱۳م. کال کې له تاجکستان سره د اسلامي بنسټ پالنې تر پلمې لاندې د امنیتي تړون د غزولو په دې لټه کې ده، چې د افغانستان څخه د ۲۰۱۴م. کال د بهرنیو قوتونو د وتلو څخه ورورسته د پخوانیو جګړه مارانو په مرسته د افغانستان سیاسي وده د خپلو ستراتژیکو مقصدونو په استقامت راواړوي.

د چین د بحیرې بېساری موقعیت:

چین دغه سیمه د خپلې حیاتي ګټې ساحه شمېرې او د هغې د دفاع په مقصد ئې خپل نظامي سمندري تاسیسات د تیارسي په حالت کې ساتلي دي. د نړۍ په سلو کې ۵۰ تجارتي تبادلې له همدې لارې څخه تامینیږي. جاپان او کوریا د سیمې ستر صنعتي هېوادونه د وارداتو په مقصد دچین دبحیرې لارې ته حیاتي اړتیا لري.

امریکا هم د چین په بحیره کې پیاوړئ حضور لري، خو چین په تعرضي دریځ او امریکا او سیمه ایز متحدین ئې په دفاعي حالت کې واقع دي.

افغانستان:

افغانستان د آسیا په زړه کې د پام وړ جیوستراتژیک او جیوپولتیک موقعیت لري. دغه موقعیت ددې لامل سوئ دئ، چې د خپل تاریخ په اوږدو کې د فاتحینو، یرغلګرو او ستراتژستانو پام ځانته راجلب کړي.

افغانستان د طبعي زېرمو خاوند هېواد د مرکزي آسيا، کسپين بحيرې، بلوچستان او دمنځنۍ آسيا د انرژي سرچينو په نژدېوالي او د اېران، پاکستان او چين په ګاونډېتوب کي د بېساري ستراتژيک موقعيت نه برخمن دئ.

د سړې جګړې په پای کي د ناټو د شته والي منطق، چي د نړيوال کمونيزم سره مقابله وه له منځه ولاړ، خو هغه ځانته بل ماموريت غوره کړ"د اسلام پالني اود هغه سره دتړلي تروريزم په وړاندي جګړه".

له کمونيزم سره جګړې دفاعي بڼه درلوده. له بنسټ پالني او تروريزم سره ئې تعرضي ډول وموند، چي افغانستان او عراق د جګړې د ډګر او مقدمي جبهې په ډول وروپېژندل سول.

د دغه واقعيت په نظر کي نيولو سره، درې واړه هېوادونه د پام وړ ژيوپولتيک موقعيت لري، د وخت په تېرېدو سره جګړه د خپلو لمړنيو ټاکل سوو موخو (د ديموکراسي او بشري حقونو څخه دفاع) څخه ووتل او ستراتژيک او ژيوپولتيک استقامت ئې غوره کړه. ديموکراسي او بشري حقونه د ستراتژيکو مقصدونو د لاسوند په توګه وکارول سوه. د نوموړو ارزښتونو څخه جګړه ايزي دفاع هغومره زور واخيست، چي د جګړې ميدان د تيلو او ګاز د سرچينو په نژديوالي کي موقعيت درلود.

په سيمه کي د ناټو د پروګرامونو په مقصد افغانستان مرکزي حيثيت وموند. افغانستان بايد په بشپړه توګه لاندي سي، تر څو د افغانستان له لاري د ناټو د پروګرامونو زمينه برابره سي. د افغانستان د هضمولو په نيت ناټو په دې لټه کي

سو، چي د افغانستان د نظام دباندي او دننه د قدرت د جوړښت هستې له منځه یوسي.

١ – د باندي د ټولنیز او سیاسي قدرت د مرکزیت اصلي سرچینه قبیلوي ناسیونالیزم وو. جګړه په یوه سیمه ایز پلان، چي افغانستان او پاکستان پکښي شامل وو، تنظیم سوه. طالب ئې د پښتون سره په تقابل کي ونیو او ورسره جګړه اعلام سوه. د جګړې اصلي لنګر د پښتنو په میشتو سیمو کي متمرکز سو. د پښتون قبیلوي جوړښت، دا دښکیلاک ضد تاریخي مورچل تر ګوزارونو لاندي ونیول سو. په کلیو او بانډو باندي بې‌رحمانه بمبارۍ وسوې، چي پکښي په سلګونو زره ملکیان ووژل سول. د قومي او مذهبي مشرانو په وژلو سره، جګړې د ژنو ساید (عام وژنه) بڼه غوره کړه.

واقعیت دادئ، چي د پښتنو پر ضد یوه لویه نړیواله توطیه، چي پکښي افغاني کړیو د سیمي او له سیمي څخه دباندي قومو او هېوادو ګډون درلود، سازماندهي سوې وه. د توطیې اصلي مقصد د طالب د وژلو تر نامه لاندي د جګړې د لمن جغرافیایي پراختیا، دوام او ورسره د پښتنو د مقاومت فزیکي او انساني قوت ماتول وو، تر څو چي د افغانستان دننه د اشغالګرو قوتونو په ګټه د یو مزدوري واکمنۍ د ساتني زمینه برابره سي اولاسپوڅي واکمنۍ په سیمه کي د ناټو دستراتژیک لاسوند په توګه وکارول سي، بې له دې چي د افغانستان ملي ګټې ته پام وسي.

د قبیلوي ناسیو نالیزم فزیکي قوت ماتول د کورنیو متحدینو په مرسته پر ملي او تاریخي سمبولونو باندي د ګوزارونو له لاري بشپړ سو. د دغه اقدام بنسټ د بن په غونډه کي کښېښوول سو.

نظامي ائتلاف د بن له غونډي څخه وروسته د ملګرو ملتونو د منشور پر خلاف د افغانستان په قومي شخړو کي د ځينو قومونو په ګټه او د بل په تاوان يو اړخيز دريځ ونيوئ.

۲ – د ناټو پر وړاندي د نظام دننه لوی ګواښ داو، چي د اساسي قانون پربنسټ باندي د رياستي نظام په نافذېدو سره د حکومت تر واک لاندي د اداري چارو د تمرکز پروسه پيل سوه.

خو ناټو او په ځانګړي توګه امريکا نه غوښتل، چي د يو باصلاحيته حکومت د حساب او کتاب او جنجال سره مخ سي. د يوې کمزوري واکمنۍ د جوړېدو په مقصد لاندي اقدامات تر سره سول.

- پرخپل سر واليان وټاکل سول.
- افغانستان ته پولي او اقتصادي مرستي د غيرحکومتي چينلونو له لاري تامين سوې.
- د امنيتي اورګانونو عملياتي ظرفيت په حد اقل کي وساتل سو او امنيتي خصوصي کمپنۍ د حکومتي اورګانونو پر وړاندي د سيال په توګه وکارول سوې.
- د حکومت پر وړاندي دستوري سياسي اپوزيشن جوړ سو. اپوزيشن ته پارلمانتريزم او فدراليزم نسخې ورکړل سوې.
- د ولسمشر او پارلماني ټاکنو په پروسه کي د ګمارل سوو کسانو په ګټه لاسوهنه وسوه.
- د وروستيو پارلماني ټاکنو په پروسه کي د پراخي لاسوهني محصول يوه ولسي جرګه جوړه سوه، چي ورته دنده سپارل سوې، چي د امريکا سره ستراتيژيک تړون لاسليک کړي.

د نظام دباندي او دننه د اقداماتو په پايله کي افغانستان د يوې ملي متمرکزي واکمنۍ څخه بې

برخي او د مختلفو نژدې او ليرې هېوادونو د ستراتيژيکو ګټو د تضادونو په مرکز بدل سو، بې له دې چې د خپلې ملي ګټې د دفاع جوګه سي.

چين او روسيه په دې لټه کې دي، چې افغانستان په تدريج سره د "شانګهای" و سازمان ته راجلب کړي. امريکا او ملګري ئې پردې باندې لنګر اچوي، چې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته افغانستان پر يوه امنيتي ستراتژيک ترون وتړي او له هغې لارې ورباندې کنټرول ولري.

او سمهال چين د افغانستان د اقتصاد پر کليدي سکتورونو باندې پانګه اچونه کړې ده او هلې ځلې کوي، چې پر تدارکاتي لارو باندې ئې خپل کنترول ټينګ کړي.

د ترکمنستان، افغانستان، تاجکستان او د چين د سې کيانګ د غاز نل ليک پروژه، د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هند د نل ليک هغه پروګرام، چې د لويديځ هېوادونو له خواه په نظر کې نيول سوئ دئ، تر جدي ستونزو لاندې راوستلای سي.

له بلې خوا ايران او پاکستان پر يوې بلې پروژې باندې کار پيل کړی دئ، چې په ترڅ کې ئې اېران د هغه اقتصادي تعزيراتو چې د لويديځوالو له خواه ورباندې تپل سوي، ځان ژوغورلای سي. د ايران ګاز (د فارس په جنوب کې) د ۱۸۰۰ کيلو متره نل ليک په واسطه، پاکستان (د کراچي شمال) ته صادرېږي. پروژه ۷،۵ مليارده ډالر لګښت غواړي. پاکستان بېله دې، چې د ايران پر وړاندې د امريکا تعزيراتو ته پام واړوي، په خپله خاوره کې د نل ليک د غزولو په مقصد له ايران څخه ۲ مليارده ډالر

مرسته غوښتې ده. ایران یوازې ۵۰۰ ملیونه ډالر او چین د تخنیکي مرستې وعده ورکړې ده.

امریکا یوه بله د نل لیک پروژه، چې له ترکمنستان، پاکستان او افغانستان له هېوادونو څخه تېرېږي، د افغانستان په غیاب د پاکستان پر وړاندې د چنه وهلو د ستراتژیک لاسوند په توګه کاروي، په دې معنا چې پاکستان ته له ایران سره د معاملې دباندې بل الترنتیف وړاندې کوي. دلته په سیمه ایزو سترو معادلاتو کې د افغانستان د پام وړ ژیوپولتیک او ژیوستراتژیک موقعیت په ګوته کېږي.

د افغانستان حکومت په دې تمه، چې امریکا د ډیورنډ د قضیې په اړه د کابل حکومت له دریځ څخه ملاتړ وکړي، په دوولسو کلونو کې هغه ته بشپړ واک ورکړ، چې د افغانستان په جنوبي جنګ ځپلو سیمو کې پرخپل سر نظامي عملیات تر سره کړي. ناټو هیڅکله د کابل حکومت په خبره دډیورنډ له کرښې هغه خواته، یعني د تروریزم پر اصلي مرکزونو باندې عملیات تر سره نه کړل . خو دافغانستان دعملیاتو په ترڅ کې ئې په سلګونو زره ملکیان په شهادت ورسول. ملکیان دکابل حکومت د ناپوهۍ او خوش باورۍ قرباني سول. د کابل لاسپوڅې واکمني په دې باندې نه پوهېدل، چې امریکا په سیمه ایزو منازعاتو کې د یوه اړخ په ګټه دریځ نه نیسي.

د چین د بحیرې اوبه د چین، ویتنام او فلپاین تر منځ د دعوا په ډول مطرح دي،خو امریکا پکښې ناپېیلی دریځ لري. د امریکا د دوو متحدینو یعني جاپان او جنوبي کوریا تر منځ د "تاکشیما" دټاپو پر سر باندې منازعه وجود لري. خو امریکا د هیچا

په ګټه دریغ نه دئ نیولی. که جګړه اوږده سي، افغانستان د امنیت د تامین او نظام جوړولو په موخه خپل هغه تاریخي، انساني، قومي او ملي پوتانسیل له لاسه ورکوي، چي پر بنسټ باندي ئې د تاریخ په اوږدو کي ټینګ نظامونه رامنځ ته سوي ول.

پر قومي طبعي جوړښت باندي جګړه ایز ګوزارونه، افغانان د امنیت او سیاسي نظام د جوړولو او ساتلو په مقصد د تل له پاره بهرنیو ځواکونو ته اړباسي. په افغانستان کي جګړه دوولس کاله مخکي د نړیوالو ستراتژستانو له طرفه د همدغه مقصد له پاره په یوه ټاکلي جغرافیایي سیمه کي، چي د ټولنیز قوت تاریخي مرکزوو، پیل سوه. د ستراتژستانو د دیالکټیک پر بنسټ باندي جګړه باید د افغاني مقاومت ترماتېدو پوري دوام ومومي.

د دوی په اند د سولي په پروسه او د راتلونکي سیاسي نظام په جوړښت کي د مقاومت ګډون د افغانستان په ګټه د قواوو د انډول بدلون لامل ګرځي. افغانستان د یوه پیاوړي مرکزي حکومت څخه برخمن کېږي، جګړه پای ته رسیږي او د ناټو د حضور د دوام منطق له منځه ځي. افغانستان د ناټو له کنترول څخه وزي. واقعیت دادئ چي په سیمه کي ستراتژیک انډول په افغانستان کي پر امنیت او پریوملي حکومتي سیاست پوري تړلی دئ. خو نړیوال نظامي ائتلاف دېته چمتو نه دئ، چي د یوخپلواک افغانستان سره په ګډه د سیمي د ستراتیژیکو او ژیوپولتیکو ستونزو د حل په مقصد لاري چاري ولټوي. د ناټو ځیني غړي په دې نه دي بریالي سوي، چي خپل ګړه وړه د ۲۱ پېړۍ د

ارزښتونو سره سمبال کړي. د ۱۸ پیړۍ د تحکم روحیه پر یرغلګرو چارواکو باندي واکمنه ده.

پایلامه:

د تاریخ په اوږدو کي کندهار، دافغانستان سیاسي او فرهنګي پیښو ته ملي استقامت ورکړی دئ او د سولي او جګړې په ډګر کي ئې مخکښ رول لوبولی دئ.

اوږد مهالي جګړې سره له دې چي زموږ مادي شتمنۍ ته په کافي اندازه تاوان رسولی خو له نېکه مرغه د جګړې په موده کي نوي نسل ته (دا د جګړې د اور او لوګي انساني محصول)، د معنوي ارزښتونو د انتقال لړۍ ادامه لري.

وروسته له دې باید نوي او راتلونکي نسلونه د معامله ګرو سیاستبازانو د غلطیو قرباني نه سي. ولس باید د درغلو سیاستوالو د اشتباهاتو د کفارې په ورکولو اړ نه سی.

په لوی کندهار کي د پاچا خان علمي څېړنیز مرکز له خوا سیمنار د همدغه مقصد له پاره جوړ سوې وو. بې له مبالغې څه سیمنار تر زیاتي اندازې پردې باندي بریالی سو چي د پوهي، منطق او حقیقت ډېوه نوي نسل یعني ځوانانو ته وسپاري. خو موږ د خپل رسالت په لومړي پړاو کي قرار لرو. هلي ځلي باید ادامه ولري.

په توپان ځپلي افغانستان کي، کندهار وتوانېدئ چي د یو پرتمین سیمنار د جوړې دو له لاري دڅېړونکو، سیاستمدارانو او فرهنګیانو تر منځ دنظر د تبادلې زمینه برابره کړي. د درو ورځو په موده کې د بهرنیو او کورنیو مطبوعاتو او مدیا فوکس (تمرکز) دکندهار خواته وو. د جګړ د پیښو د انعکاس په خاطر نه، بلکي د پوهانو او

فرهنګیانو د علمي بحثونو په سبب. کندهار د فرهنګیانو آواز دومره اوچت خپور کړ چي د ټوپک د شپېلۍ بړغ د اورېدو وړ نه وو. دا د ځګړې سره سوله ییزه مقابله ده چي ویاړ ئې پاچا خان علمي څېړنیز مرکز ته ور په برخه کیږي.

د افغانانو او د سیمي د فرهنګیانو او سیاستوالو د نظر او تجربې د تبادلې لړۍ باید ادامه ومومي. کندهار په تاریخي، فرهنګي او جغرافیایي لحاظ د ښه موقعیت په درلودلو سره کولای سي چي په سهیلي فرهنګي حوزه کي د فرهنګي تولیداتو د صدور په یو لوی مرکز بدل سي.

څو وړاندیزونه:

الف. د کندهار پوهنتون باید:

۱. په سیمه کي دپښتو ژبي د پوهنتونو سره د توأمیت موضوع مطالعه کړي.

د لکچر ورکولو په موخه د استادانو موقوته تبادله د توأمیت تړون په سر کې ځای ولري.

۲.د تدریسي کادر د بېړنۍ اړتیاوو د لیري کولو په موخه دکابل له پوهنتونو څخه استادان راوغوښتل سي.

۳.د علمي او اداري تجربې د تبادلې په موخه وقتاً فوقتاً د مختلفو پوهنتونو د تدریسي او اداري پرسونل ته ګدي غونډې جوړې سي.

۴. زیات شمېر استادان له افغانستان څخه دباندې د کډوالۍ شپې ورځې تېروي. د دوی د راجلبولو امکانات وڅېړل سي.

ب. د پاچا خان علمي څېړنیز مرکز له پاره باید:

۱ - د پاچا خان علمي څېړنیز مرکز پر محور باندي د پښتونخوا د مختلفو کلتوري ټولنو له خوا

دي يوه تولګه (فدراسيون) جوړه سي. د فدراسيون سروالی دي د پاچاخان علمي څېړنيز مرکز پر غاړه وي.

۲ – يو ځانګړی کتابتون دي جوړ سي چي د پاچاخان په اړه ليکل سوي اثار او دعدم تشدد دفلسفې پر موضوع باندي مطبوع او الکترونيکي توکي ځای ولري.

۳ – د عدم تشدد فلسفه دي دپوهنتون (د تاريخ او ادبياتو پوهنځي) په درسي نصاب کې شامل سي. او د پاچاخان پر سوله ييزه مبارزه دي زيات تمرکز وسي.

۴ – د تاريخ يوه ځانګړې ټولنه دي جوړه سي چي د پاچا خان د ژوند، سياسي مبارزه او د هغې اغېزه د سيمي په سياسي وده باندي وڅېړي.

۵– د افغانستان او پښتونخواه د فرهنګيانو او سياستوالو تر منځ د ګډي غونډي او سيمنارونو لړۍ چټکي سي. د ګډي غونډي د جوړېدو مرکزيت د کندهار، کوئټې، پېښور او د پښتونخوا د نورو ښارونو تر منځ نوبتي بڼه ولري.

د نوموړو وړانديزونو تطبيق مادي او پولي امکاناتو ته اړتيا لري. که امريکا هغه پيسې چي په دولس کاله کي ئې ( ۱۲ مليارډه ډالر) دافغانانو دوژلو په مقصد لګولي، په سوله ييزو لارو مصرف کړي وای، اوس به له افغانستان څخه جنت جوړ سوی وای ...

۶ – پرېښږدئ چي بهرنيان له افغانستان څخه د وتلو په درشل کي د وراني، قتل او جنايت خاطره شا ته پرېږدي. موږ سوالګر نه يو. د خپل هوسا ژوند حق غواړو ...

پای